بسم الله الرحمن الرحیم

پکتیکا پوهنتون

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د څېړنو او علمي مجلې آمریت

## د پکتیکا پوهنتون څېړنیزه پالیسي

دا څېړنیزه پالیسي د پوهنتون د علمي، څېړنیزو او اکاډمیکو فعالیتونو د تنظیم، همغږۍ، پراختیا او معیاري کولو په موخه ترتیب شوې ده. دا سند د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو، د لوړو زده‌کړو د اصولو او نړیوالو علمي معیارونو په رڼا کې د پوهنتون د څېړنیز نظام لپاره د اساسي لارښود حیثیت لري.

فهرست


مقدمه

تشکیل او د اړوند مسؤلینو دندې او واکونه

د څېړنیزې پالیسۍ موخې

څېړنیزه اخلاق‌نامه

څېړنیز معیارونه

ظرفیت لوړونه

د پوهنتون د علمي څېړنو تګلاره

د ساینسي علومو د څېړنیزو مقالو د نشرولو میکانیزم

د ټولنیزو علومو مجلې لپاره د شرایطو پوره کېدو په صورت کې جواز اخیستل

د کمېټې جوړښت ته لنډه کتنه


د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

مقدمه

پوهنتون د علم، تحقیق او نوښت مرکز دی. علمي څېړنه د پوهنتون د اکاډمیک اعتبار، ټولنیز اغېز او علمي پرمختګ بنسټ جوړوي. د دې پالیسۍ موخه دا ده چې د پوهنتون ټولې څېړنیزې چارې په منظم، شفاف، اخلاقي او معیاري ډول ترسره شي، څو د ټولنې علمي، اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري اړتیاوو ته ځواب ووايي.

**تشکیل او د اړوند مسؤلینو دندې او واکونه**

۱. د علمي څېړنو عمومي کمېټه

- د څېړنیزو پالیسیو طرحه، تصویب او تطبیق

- د څېړنیزو پلانونو ارزونه او تائید

- د څېړنو د کیفیت نظارت

۲. د پوهنځیو فرعي څېړنیزې کمېټې

- د پوهنځي په کچه د څېړنو تنظیم

- د استادانو او محصلینو د څېړنو ملاتړ

- د څېړنو عمومي کمېټې ته منظم راپور ورکول

۳. علمي معاونیت

- د څېړنو ترمنځ همغږي

- اداري او تخنیکي ملاتړ

- د پالیسي تطبیق تضمین

**د څېړنیزې پالیسۍ موخې**

- د علمي څېړنو کیفیت لوړول

- د ټولنې د ستونزو لپاره علمي حل لارې موندل

- د استادانو او محصلینو څېړنیز ظرفیت پیاوړی کول

- د پوهنتون علمي اعتبار لوړول

**څېړنیزه اخلاق‌نامه**

- د علمي امانتدارۍ مراعت

- د سرقت (Plagiarism) مخنیوی

- د انساني حقونو درناوی

- د معلوماتو د محرمیت ساتنه

- د اسلامي او ملي ارزښتونو مراعت

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

**څېړنيز معيارونه**

- واضح څېړنيزه پوښتنه
- علمي او نوې موضوع
- معياري ميتودولوژي
- معتبرې سرچينې
- مستندې پايلې او سپارښتنې

**ظرفيت لوړونه**

الف: نياز سنجي كول له فرعي كمېټو سره ناسته

د پوهنځيو، كتابتون او لابراتوارونو مسولينو سره ګډې ناستې كېږي ترڅو څېړنيزې اړتياوې تشخيص شي.

ب: د نياز سنجي پر اساس څېړنيز پلان جوړول

تشخيص شوې اړتياوې د كلني څېړنيز پلان برخه ګرځي.

ج: د برنامو تعقيب او نظارت

د ظرفيت لوړونې برنامې ارزول كېږي او راپورونه ترتيبېږي.

**د پوهنتون د علمي څېړنو تګلاره**

الف: د څېړنو نياز سنجي په محلي سطحه

له محلي ادارو، رياستونو او ټولنې څخه معلومات راټولېږي.

ب: د اړتياوو پر بنسټ څېړنې كول

څېړنې د مشخصو ستونزو د حل لپاره ترسره كېږي.

د: د پايلو شريكول

د څېړنو پايلې د سمينارونو، كنفرانسونو او مكتوبي راپورونو له لارې شريكېږي.

**د ساينسي علومو د څېړنيزو مقالو د نشرولو ميكانيزم**

- د مقالو علمي ارزونه (Peer Review)
- د مجلې د اصولو مراعت
- په «سلېمان غر علمي څېړنيزه مجله» كې د مقالو خپرول

**د ټولنيزو علومو مجلې لپاره د شرايطو پوره كېدو په صورت كې جواز اخيستل**

پوهنتون پکتیکا
د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

د شرایطو پوره کېدو په صورت کې د ټولنیزو علومو مجلې د جواز پروسه بشپړول

- د ټولنیزو علومو مجلې جوړښت لپاره طرحه او پلان جوړول

- ټولنیزو علومو مجلې لپاره نشراتي پالیسي جوړول

- ټولنیزو علومو مجلې لپاره د مقالو شکلي مرور، محتوايي مرور او ادبي مرور طرزالعملونو جوړول.

- د ټولونیزو علومو مجلې چاپ او نشر لپاره طرزالعمل جوړول.

**د کمېټې جوړښت ته لنډه کتنه**

کمېټه د علمي معاون، د پوهنځيو استازو، ژورنال مدير او څېړنيزو متخصصينو څخه جوړه ده.

له کتابتون، لابراتوار او پوهنځيو د فرعي کمېټو څخه د نظارت او ارزونې تګلاره

- کلنۍ ارزونه

- معیاري چک لېست

- اصلاحاتي سپارښتنې

- د کمېټې تائيدي

دا پالیسي د څېړنو د عمومي کمېټې لهخوا په ۲۲/۱۱/۱۴۰۴ نېټه غونډه کې په (۱۱) نمبر پروتوکول کې تائيد شوه.

د علمي او محصلانو چارو معاون تائيدي

د څېړنو او علمي مجلې آمريت تائيدي

دا پالیسي د پوهنتون د علمي شورا په ( ۱۰ ) ګڼه پرتوکول او ( ۱۴۰۴/۱۱/۷) نېټه غونډه کې تائيد شوی ده.

د پکتیکا پوهنتون رياست تائيدي